مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د زمري دویمه | د ۲۰۱۹ د جولای ۲۴مه | ٤۱۰مه گڼه

# د ټرمپ پر څرگندونو غبرگونونه؛

## حامد کرزی وایي، امریکا او پاکستان پر افغان سوله پټه معامله کړې ده



۳

د ټرمپ فرعوني خبرې او زمونږ د چارواکو ذلیلانه غبرگون

۲ مخ

په ۲۰۱۸ ز کال کې د افغانستان اقتصادي وضعیت او د روان کال برخلیک

۲ مخ

د افغان سولې په خبرو کې له پرمختگ سره جگړه ولې توده شوې؟

۳ مخ

## نبیل: امریکا دې د افغان وژنې پر ځای، په پاکستان کې د ترهگرو پټنځایونه له منځه یوسي

د افغانستان په تړاو د متحده ایالتونو د ولسمشر ډونالډ ټرمپ وروستیو څرگندونو په افغانستان کې د سیاسیونو توند غبرگونونه راپارولي دي.

د ملي امنیت پخواني رییس رحمت الله نبیل د ټرمپ دغه څرگندونې غندلې او هغه یې د افغان او امریکایي ځواکونو قربانیو ته سپکاوی گڼلی دی. نوموړي ویلي: «ټرمپ په خپلو وروستیو څرگندونو سره نه یوازې افغان امنیتي ځواکونو ته، بلکې د خپلو ځواکونو وینو ته چې په دغه هېواد کې د تروریزم سره د مبارزې په نوم یې تویې کړې، توهین وکړ».

هغه ویلي چې امریکا باید د افغانانو د وژلو پر ځای د ترهگرو خوندي پټنځایونه چې په پاکستان کې دي، له منځه یوسي او دغه راز باید د دغه هېواد پر استخباراتي شبکې یا (آی ایس آی) چې له ترهگرو ډلو په ښکاره ملاتړ کوي، بندیزونه ولگوي. نوموړی وایي: «زه بیا هم امریکایانو ته دا مشوره ورکوم چې د یو میلیون افغانانو د وژلو پر ځای د آی ایس آی ۳۰ تنه لوړپوړي افسران په تور لېست کې شامل کړئ».

بل پلو د ملي امنیت پخواني سلاکار ډاکټر رنگین دادفر سپنتا هم د ټرمپ وروستۍ څرگندونې په کلکو ټکو غندلې دي. نوموړي ویلي، د ټرمپ وروستۍ څرگندونې سیاسي وحشت او له تعصبه ډکې دي. هغه دغه راز په ننگرهار کې د امریکا له لوري د بمونو د مور په استعمال یو ځل بیا نیوکه کړې او هغه یې له جنایته ډک کار بللی دی. نوموړي دغه راز پر امریکا غږ کړی چې دوی افغانستان ته د هېچا په خوښه نه دي راغلي او ژر تر ژره دې ووځي.

## خلیلزاد له طالبانو سره د اتم پړاو خبرو لپاره خپل سیمه ییز سفر پیل کړی دی




۵ مخ

کتاب

۴ مخ

## غوره فکر، غوره ژوند




د ژوند د پرمختگ، نوښت او هر اړخیزې ودې لپاره د غوره فکر غوره ژوند چې د جوئل اوستین اثر دی او ځوان لیکوال او ژباړن حسیب الرحمن ساحل ژباړلی دی، ولولئ. نوموړی کتاب لس څپرکي لري او په ۱۷۶ مخونو کې راټول شوی دی.

## د کندهار په ۱۱ ولسوالیو کې پر بڼوالو کېمیاوي سرې وېشل کېږي



د کرنې وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي برنامې «NHLP» لخوا سږ د هېواد سوېل لوېدیځې حوزې اړوند، په پنځو ولایتونو کې د بېلابېلو مېوو دوه زره او ۷۹ جریبه بڼونه جوړ شوي دي، چې د انارو، انگورو، بادامو، زردالو، شکرپاره، شفتالو، لیمو او عنابو ونې لري. د کرنې وزارت د یادې برنامې لخوا د دغو نویو بڼونو د نیالگیو د ښې ودې په پار، بڼوالو ته د تورو سرو د وېش لړۍ پیل کړې ده.

د کندهار د کرنې ریاست وایي چې په دې لړۍ کې د کندهار په ۱۱ ولسوالیو کې پر هغو بڼوالو توره سره وېشل کېږي، چې د کرنې ریاست له خوا دوی ته د مېوو نوي بڼونه جوړ شوي دي. د یادو ولسوالیو بڼوال د کېمیاوي سرو له دې لړۍ هرکلی کوي او وایي، مسوول چارواکي باید دوی ته لازمي لارښوونې وکړي، څو یې د حاصلاتو په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راشي.

## صالح: طالبان از انتخابات هراس دارند چون آنها را به‌انزوا می‌کشاند




امرالله صالح معاون اول تیم انتخاباتی دولت ساز به رهبری محمد اشرف غنی می‌گوید که بزرگترین رویداد قانونی که طالبان از آن هراس دارند، برگذاری انتخابات است.

آقای صالح دیروز در هنگام اعلام اصول رفتار تیم انتخاباتی دولت ساز، گفت که طالبان از برگذاری انتخابات ریاست جمهوری هراس دارند و این گروه می‌خواهد خود را بر مردم تحمیل نماید.

به گفته آقای صالح، برگذاری انتخابات طالبان را به انزوا خواهد کشاند. صالح گفت: «اگر طالبان می‌خواهند که از راه صلح به اهداف شان برسند و حمایت مردم را به دست آورند، باید به گفت‌وگوهای مستقیم بنشیند، که آنان حاضر به این کار نیستند. چرا حاضر نیستند، طالب از انتخابات می‌هراسد، طالب از قانون اساسی می‌هراسد، آنان میان مردم جا ندارند».

آقای صالح تأکید می‌ورزد، بر بنیاد اصول رفتاری که تیم انتخاباتی دولت ساز آماده ساخته است، در هنگام کمپاین‌های انتخاباتی هیچ کار غیرقانونی را انجام نخواهد داد.

وی افزود: «رئیس جمهور ملاحظه انتخابات را شدید در ذهن خود دارد. یک قسمت وقتش وقف است بر این که انتخابات صورت بگیرد، باید فضا در جامعه یک فضای انتخاباتی باشد. او علاوه بر این که کاندید است، مسؤلیت دارد که انتخابات را برای همه برگذار کند، اما مهم این است که سوء استفاده صورت نگیرد». آقای صالح می گوید که حفظ نظام جمهوریت، قانون اساسی و مسایل حقوق بشری خطوط سرخ دولت افغانستان در گفت‌وگوهای صلح استند و هیچ خارجی حق تصمیم گیری را در باره سرنوشت کشور ندارد.



## دریـــغ

### د ټرمپ فرعوني خبرې او زموږ د چارواکو ذلیلانه غبرګون

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د پاکستان له لومړي وزیر سره په خبرو کې ویلي، که زه وغواړم چې په افغانستان کې جنګ ختم کړم، نو دا کار به فقط لس ورځې وخت وغواړي، خو زه باید لس میلیونه افغانان ووژنم، خو دا کار نه کوم. ټرمپ دغه راز وویل؛ موږ په افغانستان کې تر ټولو ستر بم وکاراوه او موږ کولای شو چې همدا کار بیا بیا وکړو. نوموړي دغه راز ویلي چې دوی که له افغانستان څخه خپل ځواکونه وباسي، نو دا کار به د پاکستان په مشوره کوي.

د ټرمپ دغو خبرو ته سخت غبرګونونه ښودل شوي، خو تر ټولو له شرمه ډک او ذلیلانه غبرګون د ارګ د چارواکو دی چې په هېڅ ډول د افغانانو د ارادې او نظر څرګندونه نه کوي. د ټرمپ خبرې واقعاً وحشیانه او ظالمانه دي. دا رښتیا هم ډېره وحشیانه ده چې د یوه اټومي ځواک لرونکي هېواد ولسمشر د یو بل غریب او بې وسه هېواد د لسو میلیونو انسانان د وژلو ګواښ کوي. موږ پوهېږو چې امریکا داسې وسلې لري چې افغانستان غوندې هېواد پرې تباه کړي. له بله اړخه د امریکا تاریخ پر وحشت او جنایت ولاړ دی. د امریکا متحده ایالاتو بنسټ پر جنایت اېښودل شوی او د میلیونونو سره پوستو په وژلو سره یې خپل لومړنی ټاټوبی او دولت جوړ کړي دي. امریکا په جګړه او جنایت کې تر دې ځایه را رسېدلې ده او د خپل تاریخ ۹۳ سلنه وخت یې په جګړه کې تېر شوی دی. امریکا لومړنی هېواد دی چې اټوم بم یې کارولی دی او دغه راز ممنوعه وسلې یې کارولې او بشریت یې له ګواښ سره مخ کړی دی.

حیرانوونکې دا ده چې ټرمپ د خپلو مخالفینو نه، بلکې د لسو میلیونو افغانانو د وژنې او له جغرافیې د افغانستان د ورک کولو خبره کوي. داسې لکه له افغانستان او افغانانو سره چې په جګړه کې وي. دلته په کابل کې او په ځانګړي ډول محمد اشرف غني خلکو ته وایي چې د امریکا پر نیت شک مه کوئ، امنیتي تړون ورسره کوي او د امریکا پر هر جنایت چوپ دی. اوس یې د ټرمپ خبرو ته له شرمه ډک غبرګون ښودلی دی. یوه بې مانا او بې ارزښته اعلامیه یې خپره کړې چې پکې یې د وضاحت غوښتنه کړې ده. د څه شي وضاحت!؟ هر څه واضح دي او هېڅ شی وضاحت ته اړتیا نه لري.

که اشرف غني او نورو چارواکو د واک له پیل څخه تر اوسه د افغانانو د ارادې تمثیل کړی وی، نو ټرمپ به د پاکستاني چارواکو په مخکې د افغانان په اړه داسې وحشیانه خبرې نه وی کړې. که اشرف غني د جان کیري فیصلې ته نه وی تسلیم شوی، که یې په پټو سترګو او خاینانه ډول امنیتي تړون نه وی لاسلیک کړی، که یې پر خپله خاوره د بمونو د مور د استعمال هرکلی نه وی کړی، که یې د خپلو ښځو، ماشومانو او بېګناه وګړو پر وژنه ذلیلانه چوپتیا نه وی غوره کړې، که یې د خپلو امنیتي ځواکونو د بمبارۍ پوښتنه کړې وی، که یې د افغانستان پر سر له پاکستان سره د معاملې پوښتنه کړې وی، که یې د جنوبي اسیا لپاره د ټرمپ طرحه خپله نه وی ګڼلې او هرکلی یې نه وی کړی او که یې بالاخره د افغانانو د غیرت، تاریخ، عزت او ارزښتونو پر اساس دریځ نیولی وی، نو نن به ټرمپ زموږ په اړه داسې فرعونانه خبرې نه وی کړې.

د امریکا پر وړاندې د ملي یووالي د حکومت چاپلوسانه، مزدورانه او غلامانه چلند د دې سبب شوی چې اوس امریکا هم زموږ پر هېواد له پاکستان او نورو سره معامله وکړي او هم زموږ د لسو میلیونو انسانانو د وژنې او د نړۍ له نقشې د افغانستان د ورکولو ګواښ وکړي.

# په ۲۰۱۸ ز کال کې د افغانستان اقتصادي وضعیت او د روان کال برخلیک

لیکوال: احمدشاه راشد - د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز څېړونکی

د ملي یووالي حکومت د وخت په پوره کېدو سره پر هغه لوري روان نه دی چې د دغه حکومت مشرانو د تېرو ټاکنو پر مهال او د روان کال د ټاکنو د ګټلو لپاره ژمنې کوي. د نړیوال بانګ د نوي راپور له مخې، د افغانستان اقتصاد د ۲۰۱۸ ز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، نږدې دوه سلنه وده لرله.

دغه شپږ میاشتني راپور چې د چنګاښ میاشتې په ۳۰مه نېټه باندې خپور شوی، د افغانستان پر اقتصادي ودې د جګړې، وچکالۍ او ناڅرګند سیاسي وضعیت ګډې اغېزې، هغه عوامل په کې په ګوته شوي چې له کبله یې افغانستان په سویلي اسیا کې تر هر بل هېواد لږه اقتصادي وده کړې. پر دې عواملو سربېره، د ټاکنو مبهم وضعیت، سیاسي بې‌ثباتي، اداري فساد، بېکاري، له هېواد نه د شخصي پانګې تېښته او په امنیتي مرستو کې احتمالي کموالی هغه څه دي چې د اقتصاد وده یې دې حالت ته رسولې ده.

اوسمهال افغانستان نه یوازې دا چې له امنیتي او سیاسي بې‌ثباتۍ سره مخ دی، بلکې له یوه بد اقتصادي وضعیت سره هم مخ دی. اقتصادي وده کمه ده، بېکاري ورځ تر بلې زیاتېږي، مالي بحران روان دی، شخصي پانګونه له نشت سره برابره ده او افغانۍ هم ورځ تر بلې خپل ارزښت بایلي. که چېرې په تېره یوه میاشت کې د افغانۍ د ارزښت ټیټېدو ته ځیر شو، نو په تېرو ۱۸ کلونو کې لومړی ځل دی چې افغانۍ د ډالر په مقابل کې په دومره لویه کچه خپل ارزښت بایلي.

همدغو تغیراتو ته په کتو سره په دې شننه کې د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز څېړونکي، د هېواد اقتصادي وضعیت ته کتنه کړې ده.

**په ۲۰۱۸ ز کال کې دافغانستان اقتصادي وضعیت**

په یو هېواد کې اقتصادي پرمختګ له امنیت او ثبات سره مستقیمه اړیکه لري. د ۲۰۱۸ ز کال په جریان کې د تېرو کلونو په پرتله په لسو ولایتونو کې دوامداره جګړو، سیاسي او اقتصادي بې ثباتۍ، اداري فساد، پارلماني ټاکنې او لوړې ملکي مرګ ژوبلې دا واضح کړې ده چې یاد کال د امنیتي وضعیت له اړخه ډېر سخت کال و. د کال په جریان کې د فراه او غزني ولایتونو سقوط، د هلمند او اروزګان ولایتونو تر دروازو پورې د جګړې رارسېدل، د سویلي زون د رییس تنظیمه جنرال عبدالرازق وژل کېدل، په شمالي ولایتونو کې بې ټیکاوه حالت، په کابل او نورو ولایتونو کې د داعش له لوري پر دیني او مذهبي ځایونو بریدونه د کال په اوږدو کې د خبرونو تاوده سرټکي وو. یاد امنیتي وضعیت په ټوله کې د سوداګرو او پانګه والو پر روحیه او روان منفي اغېز درلود چې په پایله کې یې د پانګونې سلنه ټیټه شوه او ډېری لویو سوداګرو غوره وګڼله چې خپله پانګه نورو هېوادونو لکه ترکیې او عربي هېوادونو ته ولېږدوي.

بلخوا د یو کرنیز هېواد په توګه د افغانستان اقتصاد پر کرنیز سکټور باندې تکیه کوي. کرنیز حاصلات د ناخالص کورني تولید (GDP) د پام وړ برخه جوړوي. خو له بده مرغه تېر کال د کرنې په ځانګړي ډول د غلې حاصل د ۲۰۱۷ ز کال پرتله کم و، چې عمده لاملونه یې د کرنې لپاره د هوا ناوړه وضعیت او مرضونه وو.

د خراب امنیتي وضعیت او لږو کرنیزو حاصلاتو له کبله، د حقیقي ناخالصو کورنیو تولیداتو (Real GDP) د ودې کچه ټیټه پاتې شوه. که څه هم د دولت رسمي ارقام لا نه دي اعلان شوي، خو د نړیوال بانک په تازه خپاره شوي راپور کې ښیي چې د ۲۰۱۸ ز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ودې کچه دوه سلنه وه.

د ودې ټیټه سلنه له ۲۰۱۴ ز کال وروسته د ودې د ټیټېدو له اټکلونو سره سمون خوري. د اندېښنې خبره خو دا ده چې ۲۰۱۹ ز کال په اړه هم د نړیوال بانک اټکل ډېر هیله بښونکی نه دی. اټکلونه ښیي چې په اقتصادي وده کې به حاشیوي اضافه کېږي او تر ۲.۵ سلنې لوړېږي او په ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ ز کلونو کې به په ترتیب سره ۳.۲ او ۳.۵ سلنې ته لوړېږي. که وګورو نو له ۲۰۰۳ ز کال نه تر ۲۰۱۲ ز کال پورې د اقتصادي ودې سلنه ډېره لوړه وه چې لامل یې د نړیوالو ځواکونو لګښتونه او په ودانیزو او زیربنایي پروژو کې لویه پانګونه وه. په یاده موده کې د اقتصادي ودې کچه په اوسط ډول ۹.۴ سلنې شاوخوا وه، په داسې حال کې چې هر کال د هېواد په کاري بازار کې شاوخوا ۴۰۰،۰۰۰ کسان ورګډېږي. له ۲۰۱۴ ز کال تر ۲۰۱۸ ز کال پورې اټکل شوې د ودې ټیټه سلنه د خطر زنګ دی. دا په هېواد کې د کاري فرصتونو اړتیاوو ته ځواب نه شي ویلای. سره له دې چې لا هم په هېواد کې د بې کارۍ کچه لوړه ده او ډېری خلک له اقتصادي ناخوالو په تنګ دي؛ خو بیا هم د رسمي شمېرو له مخې، په ۲۰۱۸ ز کال کې دولت خپله پراختیایي بودیجه ۹۲ سلنه لګولې، په ۲۰۱۷ ز کال کې د هېواد پراختیایي بودیجه ۶۷ سلنه مصرف شوې وه، حال دا چې په تېرو دریو کلونو کې اختیاري او غیراختیاري بودیجه په ترتیب سره ۴۴ سلنه، ۵۳ سلنه او ۵۴ سلنه لګول شوې وه. په ۲۰۱۵ ز کال کې د هېواد اقتصادي وده ۱.۳ سلنه وه، چې په ۲۰۱۶ ز کال کې ۱.۶ سلنې ته لوړه شوه، په ۲۰۱۷ ز کال کې ۲.٦ سلنې ته پورته شوه. د نړیوال بانګ د تازه نشر شوي راپور په اساس، په ۲۰۱۸ ز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې دوه سلنې ته راښکته شوې ده. په بل اړخ کې په ۲۰۱۸ ز کال کې د هېواد د داخلي عوایدو کچه هم د تېرو کلونو په پرتله زیاته شوه. په ۲۰۱۸ ز کال کې د هېواد د داخلي عوایدو کچه ۱۹۰ میلیارده افغانۍ ده چې په ۲۰۱۷ ز کال کې ۱۷۰ میلیارده افغانۍ وه او په ۲۰۱۶ ز کال کې ۱۶۵ میلیارده افغانۍ وه چې د دې کلونو په پرتله د زیاتوالي څرګندونه کوي. په ۲۰۱۸ ز کال کې د صادراتو کچه هم د ۲۰۱۷ ز کال په پرتله ۱۹ سلنه زیاته شوې ده . په ۲۰۱۷ ز کال کې د هېواد صادرات ۷۲۳ میلیون ډالره وو چې په ۲۰۱۸ ز کال کې ۸۶۰ میلیون ډالرو ته پورته شول.

**د نړیوال بانګ راپور ته کتنه**

دغه راپور وایي چې په افغانستان کې لا اقتصادي مدیریت پیاوړی دی. د دولت پالیسیو په انفلاسیون کمولو، عوایدو راټولولو او خورا کم بودیجوي کسر په ساتنه کې مرسته کړې. د دې راپور له مخې، پخه اقتصادي وده د دولت د پالیسیو د خرابېدو له امله نه، بلکې د پورته ذکر شویو عواملو له امله رامنځته شوې. حقیقت دا دی چې دولت په دغو سختو شرایطو کې د ډېرو معیارونو له مخې د پالیسیو په اصلاحاتو کې منظم پرمختګ کړی. په راپور کې راغلي چې د دولت داخلي عواید په ۲۰۱۸ ز کال کې ۱۹۰ میلیارده افغانیو ته رسېدل، چې د ۲۰۱۷ ز کال په پرتله ۱۲ سلنه لوړ شوي وو، دا په داسې حال کې ده چې د اړوندو وزارتونو او ادارو له لوري د بودیجې مصرف هم تر پخوا لوړ شوی دی.چې په ۲۰۱۸ ز کال کې ۹۲ سلنه ملي بودیجه لګول شوې ده.

که چېرې په هېواد کې اقتصادي مدیریت همداسې دوام وکړي، د نړیوال بانګ د وړاندوینې په اساس، په ۲۰۲۰ ز کال کې به اقتصادي وده ۳.۲ او په ۲۰۲۱ ز کال کې به ۳.۵ سلنه وي. په افغانستان کې وضعیت ته په کتو سره چټکې ودې ته اړتیا لیدل کېږي، چې اوسمهال په افغانستان کې ۵۴.۵ سلنه وګړې د فقر تر کرښه لاندې شپې ورځې تېروي. د دې راپور په اساس، په افغانستان کې د ثبات په راتګ سره د ډېرې چټکې ودې امکانات شته چې رامنځته کېدل یې ځانګړو شرایطو ته اړتیا لري.

**د ملي یووالي حکومت له لوري تر سره شوي کارونه**

د ملي یووالي حکومت په خپله پنځه کلنه دوره کې د سوداګرۍ، اقتصاد او ترانزیټ په برخو کې څه نا څه کارونه کړي او ځینې لویې اقتصادي پروژې یې د سیمې او په تېره د منځنۍ اسیا د هېوادونو په مرسته، افتتاح کړې دي. د ټاپي پروژې پرانیسته، د اقینې بندر، د کاسا زر پروژه، د چاه بهار بندر پروژې موافقنامه، په هرات ولایت کې د سلما بند، د افغانستان او چین ترمنځ د اورګاډي پټلۍ، له هند، چین، ترکیې او سعودي عربستان سره د هوایي دهلیزونو پرانیسته، د لاجوردو د لارې پرانیسته چې په مټ یې افغان توکي د اروپا بازارونو ته ورسېدل او بېلابېلو هېوادونو ته د افغان چارواکو سفرونه او ورسره د سوداګریزو او ترانزیټي تړونونو لاسلیک کېدل، د ملي یووالي د حکومت هڅې دي.

افغانستان چې پخوا تردې یې د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د ناظر هېواد په توګه ګډون کاوه، په ۲۰۱۶ ز کال کې یې د دغه سازمان بشپړ غړیتوب تر لاسه کړ. د ترانسپورټي ستونزو هوارېدل، د صادراتو او کورنیو تولیداتو زیاتوالی او له نړیوالو بازارونو سره د افغانستان یوځای کېدل، هغه اسانتیاوې دي چې د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د افغانستان له غړیتوب سره رامنځته شوې.

دا ذکر شوي هغه کارونه دي چې د ملي یووالي حکومت په دوره کې تر سره شوي، خو بیا هم په افغانستان کې له ۴۰ کلن ناورین نه راپاتې خراب امنیتي، اقتصادي، اجتماعي او ټولنیز وضعیت د کنټرول لپاره ډېر څه ته اړتیا وه او ده چې باید په تېر وخت او اوس کې تر سره شي، چې نه دي تر سره شوي.

**په ۲۰۱۹ ز کال کې اقتصادي وضعیت**

وضعیت ته په کتو په ۲۰۱۹ ز کال کې به اقتصادي وده کمه وي، خو د سړنیو بارانونو له امله به یو څه وغوړېږي. د خدماتو او صنایعو سکټورونو وده؛ د خراب او نامعلوم سیاسي وضعیت، را روانو ټاکنو، د بهرنیو ځواکونو وتلو او له طالبانو سره د سولې خبرو اترو له امله ټکنې ده. د نړیوال بانګ د وړاندوینې په اساس چې په منځنۍ مهال کې به تر ۲۰۲۱ ز کال پورې د سیاسي واک تر سولییز انتقال او ولسمشریزو ټاکنو وروسته، چې په پایله کې به یې د پانګوالو باور زیات شي، د اقتصادي ودې کچه تر درې سلنې لوړه شي.

هیله ده چې ملي بودیجه به په ۲۰۱۹ ز کال کې کم کسر ولري. خو د کورنیو عوایدو پر وړاندې خنډونه شته چې عبارت دي له: ۱- په ۲۰۱۸ ز کال کې د عملي شویو اقداماتو او د مالیاتو د بښنې له امله د مالیاتو اندازه به کمه شي. ۲- د سیاسي بې ثباتۍ او کمزورې شوې حکومتولۍ له کبله د ګمرکونو عواید ښایي کم شي.

دا لنډمهاله اقتصادي وده له جدي ګواښونو سره مخ ده. د ناامنۍ دوام او سیاسي بې ثباتي پانګونه او وده نوره هم ټکنۍ کولای شي. په ټاکنو پورې تړلی وضعیت د مالیاتو را ټولول او د بودیجې مصرفول ننګوي چې له دې سره مالي مدیریت او پر سیستم باور کمزوری کېږي. په بهرنیو مرستو کې ناڅاپي کموالی به د افغان دولت مالي حالت له ستونزو سره مخ کړي او خلکو ته به یې د ابتدایي خدماتو رسولو ظرفیت خورا کمزوری کړي. له بلې خوا، که د سولې خبرې اترې ښې پایلې ولري او افغانستان سیاسي او امنیتي ثبات ته ورسېږي، په لنډه موده کې به افغانستان د پانګونو او پام وړ اقتصادي ودې شاهد وي.

د چټکو اصلاحاتو او ښه امنیتي وضعیت له رامنځته کېدو پرته به اقتصادي وده همداسې ورو وي او د بېوزلۍ (۵۴.۵ سلنه وګړي د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي) په کمولو کې به پرمختګ ډېر محدود وي. د پانګوالو د باور تر لاسه کولو او اقتصادي منابعو د انسجام لپاره فوري اصلاحاتو ته، په ځانګړې توګه د کرنې او استخراجي صنایعو په برخه کې اړتیا ده. د تېرو ۱۸ کلونو د پراختیایي لاسته راوړنو خوندي کولو لپاره په امنیتي او پراختیایي برخو کې د نړیوالو مرستو دوام مهمه ونډه لري. د نړیوالو ملګرو لخوا د پایدار ملاتړ ژمنه د اوسنیو اندېښنو په کمولو کې مرسته کولای شي، چې دا به د باور کچه لوړه بوزي او پانګونې به وهڅوي.

**پایله**

اوسني وضعیت ته په کتو سره افغانستان له شته ودې څخه ډېرې لوړې سلنې اقتصادي ودې ته اړتیا لري، نو دولت باید ډېر کار وکړي چې د سوداګرۍ چاپېریال ښه کړي، د ټاکنو پروسه پرته له خنډه پلې کړي او په را روانو سختو میاشتو کې د اداري فساد او کمو شویو مالي منابعو د خراب مدیریت مخنیوی وکړي. نړیواله ټولنه هم د خصوصي سکټور او ودې د تقویې په برخه کې یو حیاتي نقش لوبولای شي، هغه داسې چې د امنیت او پراختیایي چارو لپاره خپلو مرستو ته دوام ورکړي او یقیني کړي چې دا مرستې د دولت له پلانونو سره ډېرې همغږې او تړلې دي. همدارنګه له طالبانو سره هر راز سیاسي جوړجاړی به مهمې اقتصادي ګټې ولري، ځکه چې له دې سره به د باور فضا رامنځته شي او په بهر کې مېشت افغانان به وهڅوي چې له خپلو پانګو او تخصصي مهارتونو سره افغانستان ته راستانه شي .

چټکه وده یوازې هغه وخت شونې وي چې امنیت (طالبانو سره سوله وشي) ښه شي او دولت د خصوصي سکټور ودې ته ژمن وي، داسې چې د پانګوالو حقونو ته درناوی ولري او د افغانستان هغه لاسته راوړنې، چې په تېرو شاوخوا دوو لسیزو کې یې د پیاوړو او بې پرې دولتي بنسټونو د رامنځته کېدو لپاره کړې، وساتي.

که چېرې له افغانستان څخه امریکایان او ورسره یې ملګري په مسوولانه ډول ووځي او په افغانستان کې دایمي سوله او ثبات منځته راشي، نو له دې سره موازي به د بشري پانګې په برخه کې د پام وړ پرمختګ وشي، د کرنې تولید به لوړ شي، د ترانزیټ او ترانسپورټ زیربنا به پیاوړې شي او د معدن له سکټور نه په بشپړ ډول به ګټه پورته شي، نو زموږ د غوښتنې وړ او له اړتیاوو سره سم شاوخوا شپږ سلنه د ودې کچه امکان لري چې تر لاسه شي.

# د افغان سولې په خبرو کې له پرمختګ سره جګړه ولې توده شوې؟

لیکنه: مشتاق رحیم /بي بي سي پښتو

د افغانستان د سولې په بهير کې د ښکېلو اړخونو د تېرو څو مياشتو هلو ځلو له کبله په افغانستان کې د سولې په اړه يو ځل بيا هيلې پيدا شوې دي، خو ورسره د جګړې په ډګر کې د تاوتريخوالي زياتوالی د دې لامل شوی، چې د سولې روان بهير تر پوښتنې لاندې راولي.

په قطر کې د افغان سولې لپاره د امريکايي حکومت ځانګړي استازي زلمي خليلزاد او طالبانو او ورپسې د افغاني لوريو ترمنځ له ناستې څخه د مخه، د دغو غونډو پر مهال او په دې تېرو څو وروستيو ورځو کې جګړې لا پسې زور اخيستی.

ليدل کېږي چې افغان حکومت او طالبانو خپل جګړييز خوځښتونه لا پسې ګړندي کړي دي.

د تاوتريخوالي له اوسنۍ څپې داسې څرګندېږي چې ګوندې هېڅ د سولې بحث دې مطرح نه وي. يوه خوا سوله او بله خوا بيا توده جګړه د سولې د روان بهير په اړه ځينې شکونه هم پيدا کوي.

د افغانانو شکونه بې ځايه نه دي او لامل يې شايد د افغانستان په شخړه کې د دغه ډول تجربې درلودل وي چې د سولې بحث يوازې تر خبرو پورې محدود وي او جګړه په عملي بڼه روانه وي.

خو په ټوله کې دا حالت بايد د تمې خلاف ونه ګڼل شي. د نړۍ د اوسني پېر د شخړو په تاريخ کې ليدل شوي چې هر کله د سولې بحث جدي پړاوونو ته رسېدلی، نو ورسره سم جګړه هم سخته شوې ده.

دا چاره دوه اساسي لاملونه لري او دوه ځانګړي حالتونه منځ ته راوړي. لومړی حالت هغه دی چې کله د شخړې اړخونه په دې سلا کېږي چې د حل لارې بايد په خبرو اترو کې ولټول شي.

په دې حالت کې د شخړې هغه لوبغاړي چې يا خو يوازې پر جګړه باور لري او يا يې هم په جګړه کې ګټې نغښتې وي، هڅه کوي چې د جګړې اور لا پسې تازه کړي.

دوی په دې کار سره غواړي چې د سولې بهير ونګوي او ناکامه يې کړي.

په دويم حالت کې د شخړې اړخونه د مذاکرې پر مېز د لا زيات امتياز ګټلو په موخه هڅه کوي، څو د جګړې په ميدان کې ځان پياوړی او برلاسی وښيي.

له بده مرغه د افغانستان د شخړې په اوسني پړاو کې دا دواړه حالتونه په يو وخت کې شته چې دغه چارې د افغانستان د سولې بهير ننګولی دی.

د افغانستان په روانه کشاله کې د ډېرو کورنيو او باندنيو اړخونو ګټې نغښتې دي چې د سولې له راتلو سره سم کېدای شي دا ګټې له خطر سره مخ شي.

د سيمې ځينې هېوادونه په افغانستان کې د خپلې خوښې او کمزوری نظام غواړي چې يا خو د دوی ګټې خوندي کړي او يا لږ تر لږه د هغوی نامشروع ګټې ونه ننګوي.

دغه راز ځينې نړيوال قدرتونه غواړي چې د افغانستان جغرافيه دې ناامنه وي او ټيکاو دې ونه لري. دوی د يو کمزوري افغانستان له وجود څخه خپلې سيمه ييزې موخې په اسانۍ او کم لګښت تر لاسه کولی شي.

همدا دليل دی چې هر کله د سولې بحث مهم پړاو ته نږدې کېږي، نو د ذهنونو د مغشوشولو، د خلکو د سولې پر بهير باندې ناباوره کولو او ان د ولس د سولې د بهير پر ضد د درولو لپاره دغه عناصر د جګړې اور ته لمن وهي.

همدا راز طالبان بيا بيا دا هڅه کوي چې د افغانستان له حکومت سره د خبرو نه کولو په پلمه ټول نظام او د هغې مشروعيت ونګوي.

دوی له دې لارې حکومت داسې حالت ته برابرول غواړي چې که چېرې په کومه مرحله کې طالبان له حکومت سره کښېني هم، نو داسې دې و انګېرل شي چې ګوندې دا ډله د سولې په پار د افغانستان پر نظام احسان کوي.

له دې لارې به طالبان له يو پياوړي دريځ سره د ډېرو امتيازاتو د تر لاسه کولو جوګه شي.

بلخوا حکومت هم په دې تکل کې دی چې څنګه طالبان د جګړې په ميدان کې وځپي او داسې ثابته کړي چې ګوندې که سوله و هم نه شوه، نو دوی ته به دومره ډېره د زيان خبره نه وي.

دا هڅه د دې لپاره ده چې د مذاکراتو پر مېز حکومت طالبانو ته بېخي لږ امتياز ورکولو ته اړ شي.

که څه هم د مذاکرې پر مېز د ډېر امتياز ګټلو لپاره جګړې ته زور ورکول له اخلاقي پلوه ننګول کېدای شي، خو دا د نړۍ په شخړو کې يو نورم ګرځېدلی او د افغان کشالې اړخونه هم د همدې نورم په رڼا کې خپلې موخې پالي.

خو د امتياز ګټلو بې بريده هڅه کولی شي ورانکارو ډلو ته چې نه غواړي د سولې بهير په هېڅ قيمت چې وي هم بريالی شي، د خپلو دسيسو د پلي کولو فرصت ورکړي.

دا وضعيت به د افغانستان شخړه يو داسې پړاو ته داخله کړي، چې تر پخوا به لا پسې خونړۍ او ويجاړوونکې وي. د افغان کشالې اړخونه بايد دا حقيقت درک کړي چې د دوی له حده ډېره ځان غوښتنه د سولې دا نايابه فرصت وژلی شي.

سوله د جوړجاړي او د راکړې ورکړې بهير دی او د شخړې اړخونه ورته يوازې هغه مهال چمتو کېږي، چې پوه شي چې د جګړې له لارې يې برۍ شونې نه دی.

د افغانستان شخړه هم له دغه ډول حالت سره مخ ده او د جګړې اړخونو، سياسيونو او ولسونو ته په ټوليزه توګه ثابته شوې چې دغه جګړه ګټونکی نه لري، البته بايلونکی يې بيا يوازې افغان ملت دی.

اوس اړينه ده چې ښکېل اړخونه د سولې اساسي اصل ته چې تېرېدنه، جوړجاړی او د سولې لپاره کوچني سياسي تاوانونه زغمل دي، لومړيتوب ورکړي.

# د ټرمپ پر څرګندونو غبرګونونه؛

## حامد کرزی وايي، امريکا او پاکستان پر افغان سوله پټه معامله کړې ده



په هېواد کې د ټرمپ وروستيو څرګندونو سخت او توند غبرګونونه پارولي دي. له حکومته نيولې تر ولس پورې ټول د ټرمپ په خبرو غوسه دي او هغه د هېواد ملي حاکميت او غرور ته سپکاوی بولي. دوی له امريکا د خبرو د وضاحت غوښتنه کوي او پر ټرمپ غږ کوي چې د خپلو غير شعوري او ان وحشتناکو څرګندونو په اړه وضاحت ورکړي.

د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ورمه شپه ناوخته د پاکستان له لومړي وزير عمران خان سره تر ليدنې وروسته خبري کنفرانس درلود. نوموړي په دې کنفرانس کې د نورو څرګندونو تر څنګ، د افغانستان په اړه وينا وکړه چې د افغانانو غوسه يې وپاروله. ټرمپ په خپلو خبرو کې وويل چې دی کولی شي افغان جګړه په يوه اونۍ کې ختمه کړي، خو په دې سره به لس ميليونه افغانان هم ووژل شي. د ده په خبره، نه غواړي چې د لسو ميليونو افغانانو په وژلو په اوو ورځو کې افغان جګړه ختمه کړي. يوازې دا نه، ټرمپ دا هم وويل چې که يې د مور بمونو غورځولو ته ادامه ورکړې وای او يا وغواړي دغه ډول بمونه وغورځوي، نو افغانستان به د نړۍ له نقشې ورک کړي.

د نوموړي دغو څرګندونو د افغان سياسيونو او حکومت توند غبرګون له ځان سره درلود. تر ټولو مخکې په پاکستان کې د هېواد پخواني سفير عمر زاخېلوال په يوه ټوېټ کې وليکل، افغانستان ته ډېرې امپراتورۍ او شاهان راغلل چې دا هېواد محوه کړي، خو دوی په ګونډو شول او افغانستان تر دې دمه شته دی. هغه د ملي يووالي پر حکومت هم نيوکه کړې چې د امريکا هېڅ ناروا او ظلم ته يې غبرګون و نه ښود، نو ځکه ټرمپ دومره جرئت پيدا کړ چې د افغانستان د ورکولو خبره کوي.

ولسمشرۍ ماڼۍ هم تېره ورځ پر دې مسئله غبرګون وښود. حکومت وايي، دوی له ډيپلوماټيکو لارو له واشنګټنه غوښتي چې له عمران خان سره په ګډه خبري غونډه کې د ټرمپ د څرګندونو په اړه افغان حکومت ته وضاحت ورکړي. ولسمشرۍ ماڼۍ وايي، افغانستان يو پياوړی تاريخي او پېژندل شوی هېواد دی او افغانان له زرګونو کلونو راهيسې دلته اوسېږي، نو هېڅوک يې د ورکولو وړتيا نه لري. افغان حکومت وايي، له امريکا سره يې اړيکې په دوه اړخيز درناوي او دوه اړخيزو ګټو ولاړې دي او د دغه هېواد د سولې له هڅو ملاتړ کوي، خو هېڅ وخت به د خپل برخليک پرېکړه بل چا ته ور نه کړي. ولسمشر ويلي، د نړۍ هېڅ قدرت ته به واک ور نه کړي چې د افغانانو برخليک وټاکي او دوی ته د ژوند مسير روښانه کړي.


پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د ټرمپ څرګندونې د هېواد برم او تاريخ ته سپکاوی بللې دي. د ده په خبره، د ټرمپ څرګندونې ښيي چې امريکا بشريت او انساني تاريخ ته درناوی نه لري او يوازې خپلې موخې تعقيبوي. پخواني ولسمشر حامد کرزي د ټرمپ څرګندونې غير عقلاني، غير مسوولانه او غير ډيپلوماټيکې بللې دي. د ښاغلي کرزي په خبره، امريکا پر افغان خاوره د مور بم په استعمال دا وښوده چې د افغانستان ملي حاکميت او ارضي تماميت ته درناوی نه لري. د نوموړي له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبر پاڼه کې دا هم ويل شوي چې امريکا پر افغان سوله له پاکستان سره پټه معامله کړې ده، دا معامله افغانانو ته د منلو وړ نه ده او ټول يې بايد پر وړاندې متحد وي.

د پخواني ولسمشر امنيتي سلاکار ډاکټر رنګين دادفر سپنتا هم د ټرمپ پر څرګندونو په يوه خبري غونډه کې خبرې کړې دي. نوموړي ويلي، امريکايي عسکر چا افغانستان ته نه دي را غوښتي، نو ژر تر ژره دې له دغه هېواده ووځي. هغه ويلي، هغه سوله د افغانانو لپاره د منلو وړ نه ده چې د پاکستان ګوډاګيان پر افغان خاوره واکمنان کړي.

د ولسمشريزو ټاکنو نوماند حنيف اتمر هم په يو اعلاميه کې د ټرمپ دغه څرګندونې د هېواد هويت او تاريخ ته سپکاوی بللی دی.

د دې تر څنګ په رسنيو، خواله رسنيو او ورځپاڼو کې هم د ټرمپ پر څرګندونو توند غبرګونونه څرګند شوي او هغه يې غندلې دي.

# واشنګټن: ایران زموږ استخباراتي غړي نه دي نيولي، دروغ وايي



د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ايران هغه ادعا په کلکه رد کړې، چې ګواکې د ايران امنيتي ځواکونو د امريکا د استخباراتي ادارې جاسوسان نيولي او ځينې يې په اعدام محکوم کړي دي.

ټرمپ پر خپله ټوېټرپاڼه دا خبره ليکلې: «يوازې درواغ او پروپاګند دي، لکه د بې پيلوټه الوتکې د ويشتلو په څېر. د مذهبي رژيم له خوا ويل کېږي چې بد رقم ناکام شوی او بل هېڅ فکر نه لري چې څه بايد وکړي».

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې ايراني چارواکو ويلي وو، چې د دغه هېواد امنيتي ادارو ۱۷ کسان چې د امريکا استخباراتي ادارې يا سي آی اې ته يې جاسوسي کوله، نيولي دي.

ايراني چارواکو دغه راز ويلي چې د دې شبکې ځينې کسان په اعدام هم محکوم شوي دي. د ايراني رسنيو د راپورونو پر اساس، دغه کسان په تېر لمريز کال کې نيول شوي وو.

دغه راز ايراني رسنيو داسې انځورونه هم خپاره کړي چې ګواکې نيول شوي کسان د سي آی اې افسران دي او ادعا شوې چې هغوی په ايران کې دننه له جاسوسانو سره اړيکې درلودې.

په دې اړه د امريکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ تر ټوېټ وروسته، د هغه هېواد د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو هم په يوه ټلوېزيوني مرکه کې د نيول شويو کسانو په اړه شک ښودلی.

پامپيو وويل: «د ايران رژيم په درواغ ويلو کې مخينه لري».

دا څرګندونې داسې مهال دي چې ولسمشر ټرمپ تر دې وړاندې ويلي وو، چې کولی شي د يوه اټومي تړون او ځينو نورو امنيتي مسايلو د کار کولو لپاره له ايراني مشرانو سره خبرې وکړي.

تهران بيا ويلي، تر هغو چې پر ايران د امريکا بنديزونه ختم نه شي، دغه هېواد خبرو ته چمتو نه دی.

خو د هغه له وروستيو څرګندونو داسې ښکارېده چې د امريکا ولسمشر له ايران سره د خبرو په برخه کې له خپل دريځه په شا شوی او ايران يې يو داسې هېواد بللی، چې ډېرې ستونزې لري.

د امريکا او ايران ترمنځ اړيکې وروسته له هغې ترينګلې شوې، چې متحده ايالتونه د ۲۰۱۸ ز کال په مې مياشت کې د ايران د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي تړونه ووتل او پر ايران يې سخت بنديزونه ولګول.

# د کتاب خبرې

## پښتانه


### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### دوهم څپرکی

### له سوله ییزو سرحدي سیمو د افراطیت تر بستره




د افغــان په ننـګ مــې وتړلـه تــوره
ننګيالی د زمانې خوشال خټک یم

د خوشال خان خټک لیکنې په ځانګړي توګه شعرونه یې د روښانتیا او د دې غورځنګ د منتقدینو په پرتله یو ځانګړی پیل دی. خوشال خان د خپل وخت ترخه حقیقتونه بیانول. هغه د پښتنو تر منځ د دریځ او بېلتون د له منځه وړلو او د هغوی ترمنځ د یووالي هڅه کوله. نوموړی د مغلو پر وړاندې د مبارزې اتل ګڼل کېږي. د خوشال خان سېکولر طرحو هغه د معاصرو پوهانو زړونو ته نږدې کړ، له خوشال خان یې الهام اخیستی، هغوی خوشال خان یو توریالی شاعر ګڼي چې پښتنو ته یې په «قلم» او «توره» دواړو «خدمت» کړی. د نوموړي یو شعر (له پښتون نه ګیله) به د بېلګې په توګه وړاندې کړو.

درست پښتون له کـندهاره تـر اټکه
سـره یو د ننـګ په کار پټ او اشکار
بلــه هېڅ خبره نشـته پـه دا منـځ کې
یا مغل له منځه ورک یا پښتون خوار

**د افغانانو امپراتوري**

د اتلسمې پېړۍ په پیل کې د امپراتوریو له ناکامۍ سره پښتنو ته د خپل هېواد د جوړولو فرصت په لاس ورغی، خو د دې فرصت تخم لا له وړاندې شیندل شوی و. په ۱۷۰۷ ز کال د مغل سخت دریځه امپراتور اورنګزېب عالمګیر د فرصتونو لومړی څوک و چې سیاسي یووالي ته یې لاره اواره کړه. د اورنګزېب له مړینې وروسته، د مغلو ځواکمنه امپراتوري کمزورې شوه، د هند په سویلي سیمو کې یې د هندو مهارټیانو د مقابلې توان نه لاره. د اتلسمې پېړۍ په پیلېدو سره د مسلمانانو درې لویې امپراتورۍ چې سویلي او مرکزي اسیا یې سره وېشلې وه د کمزورۍ پر لور رواني وې، دا د مغلو د ایران د صفویانو او د ازبکو استراخانیانو امپراتورۍ وې. مغلو او صفویانو هڅه کوله پر پښتنو په ځانګړي توګه پر کندهار کنټرول ولري.

په ۱۷۰۹ ز کال میرویس خان هوتک چې هغه مهال د غلجیو د هوتک قوم مشـر و، د ګرګین پر وړاندې پاڅون رهبري کړ. ګرګین، د هغه اجیرو سرتېرو او د کندهار د صفوي والي پر وړاندې پاڅون زړه نازړه شو، پر دې وخت کې ګورګین میرویس خان هوتک اصفهان کې صفوي دربار ته ولېږه. هغه له دې سفره ګټه واخیسته، په همدې وخت کې د حج فریضې ته هم لاړ. نوموړي یوه فتوا واورېده چې د کندهار د مرتد صفوي والي پر وړاندې د خلکو پاڅون مشـروعیت لري. میرویس خان هوتک او د هغه ځای ناستي شاه محمود او شاه اشرف پر دې وتوانېدل چې د ایران ډېره خاوره تر ولکې لاندې کړي، خو دې امپراتورۍ یوازې تر ۱۷۲۹ ز کال پورې دوام وکړ. پر هماغه کال یو ترکمن جنرال او قومي مشـر نادر افشار غلجي له ایران څخه شاتګ ته اړ ویستل او په ۱۷۳۹ ز کال یې هلته خپله امپراتوري اعلان کړه.

خو دې امپراتورۍ هم ډېر مهال ونه نیو، نادر افشار په ۱۷۴۷ ز کال د هند د مغلو د یوه سفر له ولجې سره راستون شوی و چې مشهد ته نږدې ووژل شو. وروسته له هغه کندهار کې د پښتنو یوه قومي نهه ورځنۍ جرګه جوړه شوه چې په ترڅ کې یې د امپراتورۍ یو کاریزماتیک(منلی) قومندان احمدشاه ابدالي د افغانانو مشـر وټاکه. هغه د خپل قوم نوم له ابدالي په دراني واړاوه چې په دودیزه توګه له غلجو سره سیالي لري. د یوه هندوستاني مسلمان عالم شاه ولي الله په بلنه درانیو د مرهټیانو هندوان مات کړل او په ۱۷۶۱ ز کال یې هلته قدرت ونیوه. احمدشاه دراني تر ۱۷۷۳ ز کال پورې پاچاهي وکړه، د پېړۍ په دې څلورمه برخه کې د افغان درانیو امپراتوري ډېره پراخه شوه. د هغه زوی تیمورشاه او لمسیانو شاه زمان، شاه شجاع او شاه محمود د سدوزیو د کورنۍ واکمني تر ۱۸۲۶ ز کال پورې پرلپسې وساته، خو د دې درېیو تنو واک تل په دسیسو، ستونزو او خپل منځي جګړو کې تېر شو.

تیمورشاه په ۱۷۷۶ ز کال د پښتنو له زړه کندهار څخه پلازمېنه کابل ته یوړه چې د بېلابېلو قومونو مېشت ځای دی. هغه د بخارا له ازبکو سره یو تړون وکړ چې د لومړي ځل لپاره یې د امو سیند سویل ته د افغانانو واکمني په رسمیت وپېژنده. اروپایانو دا مهال لومړی له پښتنو سره اړیکې ټینګې کړې. د لومړي ځل لپاره په ۱۸۰۵ ز کال د ختیځ هند برېټانوي کمپنۍ استازی مونټ سټوارټ الفنسټن پېښور کې د شاه شجاع له دربار سره ملاقات وکړ.

د درانیو امپراتورۍ تر ۱۷۹۳ ز کال پورې دوام وکړ. د درانیو واکمني له منځنۍ اسیا څخه د ډهلي تر سرحد او له کشمیر څخه تر عرب سمندر پورې وغځېده. له عثماني ټولواکمنۍ وروسته اتلسمه پېړۍ کې دا د مسلمانانو تر ټولو لویه امپراتوري وه، خو په پای کې یاده امپراتوري د کورنیو بې اتفاقي او قومي مخالفتونو له کبله ونړېده. د درانیو امپراتوري له ۱۸۱۸ ز کال مخکې ماته شوه او افغانستان په څلورو وړو واکمنیو ووېشل شو. د کابل والي دوست محمدخان په ۱۸۳۴ ز کال امیر وټاکل شو. واک ته له رسېدو سره سم په درانیو کې د ننه واک له سدوزو څخه بارکزو ته انتقال شو. د درانیو خپل منځي جګړې د دې لامل شوې چې په پنجاب کې د سیکانو لنډه خو ځواکمنه واکمني حاکمه شوه. د دې سیمې د حاصل خېزو غونډیو له کبله دا مستعمره هغوی ته ګټوره وه. سیکان د لومړي ځل لپاره په ۱۸۱۳ ز کال د اټک په جګړه کې بریالي شول. ملتان، کشمیر، غازي خان ډېره او اسماعیل خان ډېره سیمې د پښتنو له لاسه ووتې، د سیکان د واکمن مهاراجا رنجیت سنګ لاس ته ولوېدې، خو په ۱۸۳۳ ز کال د پښتنو له لاسه د کشمېر وتل خورا خطرناکه او لویه ناکامي وه. **دوام لري...**

# غوره فکر، غوره ژوند

اکسوس کتابپلورنځی

فکر کول ژوند اسانه کوي، انسانانو ته د ژوند لارې او ګودرې ښیي، په کومه لاړ شي، څه وکړي، له چا سره مفاهمه وکړي، له چا سره سلا وکړي او د خپل ژوند مخکې وړو او پرمختګ لپاره کومې لارې وکاروي. د ژوند د پرمختګ او بریا لپاره راځئ لومړی ځان وپېژنو.

موږ څوک یو، څنګه، څومره او ځواک مو څومره دی؟ که دا هرڅه وپېژنو، ځان پېژندلی شو او پوهېدی شو چې ستونزو ته څنګه ماتې ورکړو او «نشم کولای» ته څنګه «کولای شم» ووایو.


نو که موږ پیاوړي او پر ځان واکمن وو، نو هر ناشونی کار شونی کولی شو، د دغو ناشونیو کارونو لپاره باید څه وکړو، ځواب یې جوت او څرګند دی چې باید د خلکو له تجربو یو څه زده کړو، ځکه چې تجربه د علومو مور ده او موږ د خلکو له تجربو د ښه ژوند کولو او د ژوند پر ستونزو بریالي کېدای شو.

په دې برخه کې تر ټولو ډېره ونډه ځوانان اخیستی شي، که ځوانان پر خپل فکر او هوډ واکمن وي، کولای شي د ښه ژوند لپاره ښه امکانات برابر کړي، هرې ستونزې ته ماتې ورکړي او ښه ژوند وکړي. ژوند د خدای ج یوه په زړه پورې ډالۍ، نعمت او رحمت دی. ژوند ښکلی دی او زموږ په کلک هوډ سره نور هم ښکلی کېدای شي. که په ژوند کې موخه ولرو او له مهالوېش سره سم ژوند وکړو، لرې به نه وي چې په ډېرې اسانۍ له هغو ستونزو ځان وباسو چې ورسره مخ یو. په نن کې ژوند وکړئ او همدا نن یو غنیمت وګڼئ، کوم ټکی چې زموږ په ژوند کې ډېر اړین او مهم دی، هغه زموږ او ستاسې لیدلوری دی.

د ژوند د پرمختګ، نوښت او هر اړخیزې ودې لپاره د غوره فکر غوره ژوند چې د جوئل اوستین اثر دی او ځوان لیکوال او ژباړن حسیب الرحمن ساحل ژباړلی دی، ولولئ. نوموړی کتاب لس څپرکي لري او په ۱۷۶ مخونو کې راټول شوی دی.

په کتاب کې پر دې غوره عنوانونو بحث شوی: ذهن مو له سره پروګرام کړئ، د حذف (پاکېدو) بټنې کېکاږل زده کړئ، ښه زړي (تخمونه) وکرئ، سافټ ویرونه مو بیا پروګرام کړئ او هغه جګړه چې ستاسې په ذهن کې اور بلوي.

سنګرونه ماتېږي. په پورته غوره عنوانونو کې د ټولنې پاړکي دې ته هڅول شوي، چې پر خپل ذهن کار وکړي، زده کړي چې منفي فکر بېرته پاکولای شي، کولای شي د منفي فکر پر ځای مثبت فکر ته وده ورکړي او له خپل ذهن څخه د یوه کمپیوټر په څېر چې




یو څه ترې پاکوی شو او یو څه ور زیاتوی شو، کار واخلي.

د کتاب په سریزه کې راغلي دي: «که خپله حرکت ونه کړی، نور مو حرکت ته نه پرېږدي. هڅه وکړئ چې خپلې وړتیاوې خپله و ازمایی او معلومه کړئ چې ځواک مو څومره دی او څومره توانایي لری. کله چې خپله توانایي او ځواک درته معلوم شي، کولای شی همدا ځواک او توانایي ورځ په ورځ زیاته کړی او یوه ورځ به داسې یوه پوړ ته رسېږی، چې تر دې وړاندې به یې تر سره کول درته ناشوني ښکارېدل. چاته اجازه مه ورکوئ چې منفي لور ته مو کش کاږي، ځکه چې منفي فکره خلک هڅه کوي چې پر تاسې منفي لېبلونه ووهي او د پرمختګ مخه مو ونیسي».

مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د اسلامي نړۍ تاریخ درې ټوکه | پروفیسرمحمد نعیم صدیقي | ۸۰۰؋ |
| ۲ | تیوری و میتودهای تدریس فزیک | پوهاند دکتور حسن خان اخلاص | ۲۶۰؋ |
| ۳ | و کتور آنالیز | پوهاند دیپلوم انجینیر خالقداد فیروز کوهي | ۳۰۰؋ |
| ٤ | مجموعه سوالات کلیدی و تکنیکی ستاژ قضا | عبدالمجیب بارع | ۱۸۰؋ |
| ٥ | لسم ولسمشر (ناول) | نور الله سلطان زوی | ۱۰۰؋ |
| ٦ | د ترکیبي افعالو قاموس انګلیسي ـ پښتو | میرویس غورځنګ | ۲۵۰؋ |
| ۷ | ACTIVE SKILLS FOR READING INTRO CD | Neil J Anderson | ۲٤۰؋ |
| ۸ | ACTIVE SKILLS FOR READING 1 CD | | ۲۰۰؋ |
| ۹ | ACTIVE SKILLS FOR READING 2 CD | | ۲۰۰؋ |
| ۱۰ | CD ACTIVE SKILLS FOR READING۳ | | ۳۰۰؋ |
| ۱۱ | ACTIVE SKILLS FOR READING 4 CD | | ۳۰۰؋ |
| ۱۲ | Reading and Vocabulary Development Facts & Figures | patricia Ackert | ۱٥۰؋ |
| ۱۳ | Reading and Vocabulary Development Thoughts & Notions 2 | | ۱٤۰؋ |
| ۱٤ | Reading and Vocabulary Development Cause & Effect 3 | | ۱٤۰؋ |
| ۱٥ | Reading and Vocabulary Development Concepts & Comments 4 | | ۱٥۰؋ |
| ۱٦ | زما ژوند د هوا په سترېو څپو کې | ډګرجنرال قهرمان عبدالوهاب وردګ پیلوت | ۱۰۰؋ |
| ۱۷ | حاملګی زیباست تولد و مراقبت از فرشته زیبای کوچک | دکتر شانتی ګوش | ۲۰۰؋ |
| ۱۸ | هم خانه با خدا در حیات جاودان | نیل دونالد والش | ۳۰۰؋ |
| ۱۹ | مهارت های زندګی | د کتر آرنولد لازاروس | ۱٥۰؋ |
| ۲۰ | آموزش روزنامه نګاری | دبورا پار | ۱۸۰؋ |
| ۲۱ | فرهنګ شهر نشینی | دا کتر منصور مجاب | ۲۰۰؋ |
| ۲۲ | مقدمه ای بر جامعه شناسی نابرابریهای اجتماعی | علی کمالی | ۱٥۰؋ |
| ۲۳ | در آمدی بر جامعه شناسی سیاسی تنوع قومی مسایل و نظریه ها | علی کریمی | ۲٥۰؋ |
| ۲٤ | اخلاق پروتستان و روح سرمایه داری | ماکس وبر | ۱۲۰؋ |
| ۲٥ | عقل و اعتقاد دینی | مایکل پترسون | ۱٥۰؋ |
| ۲٦ | سیاست پوهنه | فرهاد داوري | ۳۰۰؋ |
| ۲۷ | د پیسونړیوال مسایل | پوهاند دوکتور عبیدالله شینواری | ۱۸۰؋ |
| ۲۸ | حقوق اساسی جمهوری اسلامی افغانستان | دکتر عبدالعلی محمدی | ٤۰۰؋ |
| ۲۹ | اسناد اداری نویسندګی حقوقی و اداری | حمیداللهعبدالهی | ۱۳۰؋ |
| ۳۰ | ته چې ومرې څوک به ژاړي؟ | روبین شرما | ۱۳۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
اړیکه: 0202504652 - 0798-98-9696

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰ |
| € | ۸۹,۶۰ |
| Rp. | ۵۰۳ |
| ₹ | ۱۱۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۹۹ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

# اوبو پر سر اخیستي امریکایي مشران ځگ ته هم لاس اچوي

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

په داسې حال کې چې د امریکا ـ افغان جگړې د پای ته رسولو اړوند، د سیمې او نړۍ په کچه د نظر اجماع ورځ تر بلې پیاوړې کېږي او هغه شرایط چې پر افغان سپېڅلې خاوره د امریکایي تاړاک په پیل کې رامنځته شوي وو، اوس په یو برعکس عمل کې پر شک او د امریکایانو د پټو ستراتیژیو او کرغېړنو موخو له امله د دوی له اوږدمهاله حضور سره په ټکر کې واقع شوي. بل لور ته له طالب اړخ سره خبرو اترو ته د امریکایانو کښېناستل، د مور بم پر ځېر د هر ډول او رنگه انسان وژونکو وسلو کارونه، د دوی د حربي جنرالانو او نظامي ستراتیژیانو پرله پسې ماتې، د جغرافیې له لاس ورکول او د دوی تر کفالت لاندې افغان حکومت د واک او حاکمیت سیمه له کلیو او ولسوالیو یوازې تر سترو ښارونو محدودېدل، د دې ښوونه کوي چې امریکایان مات دي او دوی هسې له سیمې د پښو سپکولو لپاره په اوبو کې د چم ښودلو او گام اړولو لوبه کوي.

اوس په داسې یوه فضاه کې د عمران خان سفر امریکا ته او هلته د ټرمپ د مخکنیو چرسي لافو شاپو خلاف، د پاکستاني لومړي وزیر تود هرکلی او له هغه سره د خپلو پوځیانو د تېښتې له بحثه نیولې، د هند او پاکستان د شخړې تر حل او په ځانکړي ډول دا خبره چې که چېرې زه وغواړم په افغانستان کې جنگ ختم کړم، نو دا کار به فقط لس ورځې وخت وغواړي، مگر زه باید لس میلیونه افغانان ووژنم، یا دا چې موږ په افغانستان کې تر ټولو ستر بم واچوی او موږ کولای شو چې همدا کار بیا بیا وکړو، خو موږ نه غواړو چې افغانستان پوپنا کړو.

د ټرمپ دا ډول خبرې د یو ډیسکوټیک شرابي او جیمز بانډ د امریکایي فلمونو هغو خیالي صحنو ته ورته دي چې د سپیني ماهۍ په ۲۰۰ متری کې شوکه مارانو ته به هم ریشخند ښکاري.

دا ځکه افغانستان که د ارگ له مذبذب دریځه نه، بلکې که د افغان ولس د تاریخ او د انساني تمدن له لوړ دریځه مطالعه شي، تل ستر ملت پاتې شوی، بشري یون ته یې د عزت او عزمت ویاړونه پرېښې او تل یې د گرگین، چنگیز، انگریز، مغل او تزار په شان د وخت فرعوني، شدادیانو او نمرودانو ته داسې ماتې ورکړې، چې تر ننه هم بیا په سد نه دي راغلي او د تاریخ د عبرت په هدیره کې نیست او تباه شوي دي.

د امریکایي ولسمشر وروستۍ څرگندونې د دوی له تاریخ څخه په جهل، په ټوله مانا د ستر افغان ملت سپکاوی، د افغان حکومت د خپلواکۍ او ملي حاکمیت د داعیې بطلان او په ټوله کې د جگړې په ډگر کې د دوی د شرموونکې ماتې داسې بېلگه ده، چې په پورونو کې ډوب پاکستان او عمران خان غاړې ته هم لاس اچوي.

ټرمپ او د نوموړي حواریون باید پو شي چې موږ دا وطن په سرونو پاللی، د دې عظیم ولس تاریخ په وینو لیکل شوی او د دې ملت اتلان د پنجابي بنسټگر جناح په څېر د انگریز په مۍ خانو او شرابخانو کې پیدا شوي ټامیان نه دي، دلته اتلان هغه څوک دي چې ستا په اسلافو فرنگیانو یې میندې بورې کړې وې، لکه غازي امان چې یرغلگر یې تر جهنمه بدرگه کړې دي، لکه وزیر اکبر خان او یا لکه میوندي ملاله چې د آزادۍ او حریت بیرغ یې رپاند ساتلی و.

هغوی چې په امپراطورۍ کې یې سر نه ټیټېدو، نن تر محدودو جزیرو راکوچني شوي، امریکایان مات دي، دوی به ژر د دې ملت عزت، کرامت او عزمت ته گونډې وهي، دا ځکه افغانان افریقایي سوباړې نه دي، موږ په لس میلیونه نه ورکیږو، موږ ټول ۳۵ میلیونه ملت له پیدایښته کفن په غاړه د خپل مور وطن په ننگ او لار کې ابراهیمي اسماعیلیان یوو.

له دې ټولو سره ننگ او شرم هغوی ته دی چې لا اوس هم د سولې په لار کې خنډونه جوړوي، لا اوس هم په پردو عسکرو ځان او واک ساتي او لا اوس هم د پنجاب او امریکا په افغان وژونکو موخو او مرگونو ستراتیژیو کې تور او سپین لټوي.

## عمران خان: ډېر ژر به د طالبانو لخوا تښتول شوي امریکایي استادان خوشې شي



د پاکستان لومړي وزیر عمران خان ویلي چې ډېر ژر به د طالبانو له خوا تښتول شوي امریکایي استادان خوشې شي.

دا په داسې حال کې ده چې په کابل کې د افغانستان د امریکایي پوهنتون دوه امریکایي او یو استرالیایی استاد په ۱۳۹۵ لمریز کال کې د وسله والو طالبانو لخوا تښتول شوي او تر اوسه یې برخلیک نه دی معلوم.

د پاکستان لومړی وزیر عمران خان چې امریکا ته په لومړي رسمي سفر تللی، ورمه شپه د امریکا فاکس نیوز شبکې سره په یوه مرکه کې وړاندوینه کړې چې دغه استادان به په راتلونکو ٤٨ ساعتونو کې خوشې شي.

هغه زیاته کړې، پاکستان د دغو استادانو په خوشې کولو کې خپل رول ادا کوي او هیله یې څرگنده کړې چې ډېر ژر به دا کسان خوشې شي.

تر دې مخکې دغو استادانو په یوه ویډیویي پیغام کې له امریکایي چارواکو غوښتي وو چې د دوی په خوشې کولو کې مرسته وکړي.

عمران خان په یاده مرکه کې دا هم منلې چې د پاکستان په ایبټ اباد ښار کې د القاعدې د پخواني مشر اسامه بن لادن په پیدا کولو کې د دوی د استخباراتي ادارې (آی اېس آی) مرسته کړې وه.

هغه زیاته کړې، که له امریکایي استخباراتي ادارې (سي آی اې) څخه وپوښتل شي، نو له هغوی سره معلومات شته چې آی اېس آی ورته معلومات ورکړي وو.

هغه ویلي: «امریکا زموږ متحد و، موږ غوښتل چې په خپله اسامه بن لادن ونیسو، خو امریکایان زموږ خاورې ته راغلل او اسامه یې وواژه».

دا په داسې حال کې ده چې اسامه بن لادن د ۲۰۱۱ ز کال په مې میاشت کې د ځانگړو امریکایي ځواکونو لخوا ووژل شو.

## خلیلزاد له طالبانو سره د اتم پړاو خبرو لپاره خپل سیمه ییز سفر پیل کړی دی



د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد له طالبانو سره د اتم پړاو خبرو اترو لپاره سیمې ته سفر پیل کړی دی.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت لخوا په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې خلیلزاد سیمې ته خپل سفر پیل کړی او ټاکل شوې چې د اگست تر لومړۍ پورې افغانستان او قطر ته سفرونه وکړي.

په خبرپاڼه کې راغلي چې د خلیلزاد دغه سفر د هغو هڅو برخه ده، چې غواړي افغان شخړې ته سوله ییز هواری پیدا کړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې خلیلزاد به لومړی کابل ته ځي او له هغه ځایه به بیا له طالبانو سره د خبرو لپاره قطر ته ځي.

سرچینې ویلي چې په کابل کې به هغه له افغان چارواکو سره د سولې پر روانې پروسې مشورې او خبرې اترې کوي او هڅه به وکړي چې بین‌الافغاني مذاکراتو ته زمینه برابره کړي.

دغه راز په خبرپاڼه کې راغلي چې خلیلزاد به په کابل کې د مدني ټولنې، ښځو او نورو استازو سره هم پر دې پروسې خبرې کوي.

د یادونې ده چې تېره میاشت په قطر کې د امریکا او طالبانو ترمنځ په اووم پړاو خبرو کې دواړو لوریو د پرمختگونو خبر ورکړی و.

د طالبانو او امریکا ترمنځ په دې خبرو اترو کې پر څلورو موضوعاتو ډېر تمرکز شوی چې د بهرنیو ځواکونو وتل، د ترهگرۍ پر ضد مبارزه، بین‌الافغاني مذاکرات او هر اړخیزه اوربند پکې شامل دي.

ویل کېږي چې دواړه لوري د تېرو پړاوونو په خبرو کې تر اوسه پر لومړیو دریو مواردو هوکړې ته نږدې شوي، خو پر هر اړخیز اوربند اوس هم بحثونه روان دي.

## نوماندان: د ناامنۍ له کبله به ونه توانېږو چې خپلې ټاکنیزې مبارزې په سمه توگه وکړو



د ولسمشریزو ټاکنو ځینې ټاکنیز ټیمونه وایي، د ناامنۍ له امله به ونه توانېږي چې خپلې ټاکنیزې مبارزې په سمه توگه وکړي.

دوی وایي، د امنیت د ټینگښت په برخه کې چې ورسره حکومت کومې ژمنې کړې وې، یوه یې هم نه ده عملي کړې.

راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند شهاب حکیمي ازادي راډیو ته ویلي: «زه فکر کوم چې د ناامنۍ له امله به خلک له ډېرو ستونزو سره مخ شي، نوماندان به ونه شي کولای چې ټولو سیمو ته سفرونه وکړي او په ټولو ځایونو کې خپل کمپاینې دفترونه خلاص کړي. دا یوه جدي ستونزه ده، خلک هم فکر نه کوم چې په کمپاینې غونډو کې برخه واخلي، ځکه د ناامنۍ وېره موجوده ده». دغه راز د گلبدین حکمتیار په مشرۍ د سولې او اسلامي عدالت ټاکنیز ټیم ویاند فضل غني حقمل هم ورته اندېښنه څرگنده کړې، خو ټینگار یې کړی چې حکومت باید د ټولو کمپاینې غونډو او نوماندانو امنیت خوندي کړي.

حقمل ویلي: «هغسې چې باید نوماندان د افغانستان ټولو ولایتونو او ولسوالیو ته لاړ شي او کمپاین تر سره کړي، دغه ډول کمپاینونه په اوس وخت کې فکر کوم ناممکن دي، ځکه طالبان ادعا کوي چې د افغانستان له نیمې ډېره خاوره د دوی په کنټرول کې ده، نو په دې صورت کې نوماندان نه شي کولای کلي په کلي کور په کور کمپاین وکړي».

بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاند ذبیح سادات هم د ټاکنیزو مبارزو پر وړاندې ناامني لویه ستونزه گڼي، خو وایي چې کمېسیون امنیتي بنسټونو ته مکتوبونه استولي چې د نوماندانو امنیت خوندي کړي.

په ورته وخت کې د کورنیو چارو وزارت ډاډ ورکوي چې د یوه ځانگړي امنیتي پلان له مخې به د ټولو نوماندانو د کمپاینې غونډو او منډو ترړو امنیت وساتي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



# المبارک
توریستي شرکت

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!




flydubai | TURKISH AIRLINES | Emirates | ARIANA

0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55

کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.



چهارشنبه د ۱۳۹۸ د زمري دویمه | د ۲۰۱۹ د جولای ۲٤مه | ٤۱۰مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۸ | ۳۹ | ٤۳ | ٤۳ | ٤۲ | ۳۹ |
| ۲۱ | ۲٥ | ۲۳ | ۳۰ | ۳۰ | ۲٥ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۹ | لمر ختل ۰٤:٥۷ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیگر ۰۳:٤٦ | ماښام ۰۷:۰۳ | ماخوستن ۰۸:٤۳

## نړۍ



# واشنگټن: ایران زموږ استخباراتي غړي نه دي نیولي، دروغ وایي

۳

## برېټانیا: ډېر ژر به په هورمز تنگي کې د بېړیو د امنیت لپاره سمندري ماموریت جوړ شي



برېټانیا لـه خپلو اروپایي متحدینو غوښـتي چـې د بېړۍ چلونـې د لارې د خوندیتـوب او خـلاص پرېښـودو لپاره یو سـمندري ماموریت جـوړ کړي.

برېټانیـا دا غوښـتنه وروسـته لـه هغـې کـړې چـې پـه دې وروسـتیو کـې پـه هورمـز تنگي کـې د دغه هېـواد یوه تېل وړونکـې کښـتۍ د ایـران لـه لـوري نیول شـوې ده.

د برېټانیـا د بهرنیـو چـارو وزیـر جرمي هانـټ د دغه هېواد د کابینـې تـر غونـډې وروسـته، د ایـران لـه لـوري د یادې کښـتۍ نیـول یـوه سـمندري غـلا بللـې او ویلي یـې دي، چـې ډېـر ژر بـه له خپلـو اروپایـي متحدینو سره پـه هورمز تنگـي کـې سـمندري ماموریت جـوړ کړي.

نومـوړي دغـه راز د هورمز تنگـي لـه لارې د تېلو د خوندي لېـږد لپاره نـوې طرحې هم وړانـدې کړې دي.


هانـټ زیاتـه کـړې، اوسـمهال دوی د اروپا په مشرۍ د گډ سـمندري ماموریـت د تنظیـم پـه هڅـه کـې دي، څـو لـه دې مهمـې سیمې څخـه د بار وړونکو کښـتیو تـگ راتگ خوندي شي.

نومـوړي دغـه څرگندونـې د برېټانیـا پارلمـان تـه د تېـل وړونکـې کښـتۍ د نیـول کېدو د راپور پر مهـال کړې دي.

د دغـه راپـور د وړانـدې کولو پر مهـال د برېټانیا د پارلمان ځینـو اسـتازو هـم د ایـران پـر دغـه اقدام په کلکـه نیوکه کـړې او لـه دغـه هېـواده یـې غوښـتي چـې لـه پاروونکـو اقداماتـو ډډه وکـړي.

ایـران ادعـا کـړې چـې دغـې کښـتۍ سـمندري مقررات مـات کـړي، خـو برېټانیـا دا خـبره ردوي.

## مودي: د کشمیر د مسئلې په اړه مو له ټرمپه د منځگړیتوب غوښتنه نه ده کړې



د هند لومړي وزیر نرېندرا مودي ویلي، نوي ډیلي له واشنگټنه د کشمیر د لانجې د حل په برخه کې هېڅکله هم د منځگړیتوب غوښتنه نه ده کړې.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر ټرمپ تر دې وړاندې له خبریالانو سره په خبرو کې ویلي وو، چې د هند لومړي وزیر نرېندرا مودي په جاپان کې د لیدنې پر مهال ترې غوښتي وو، چې د کشمیر د ستونزې د حل په برخه کې له نوي ډیلي سره مرسته وکړي. نوموړي دغه خبرې وروسته له هغې کړې، چې تر دې وړاندې یې د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره گډه خبري ناسته درلوده او د افغانستان په تړاو د هغه وروستۍ څرگندونې هم له توندو غبرگونونو سره مخ شوې دي.

بلخوا د هند د بهرنیو چارو وزیر چې په جاپان کې یې په جي- ۲۰ ناسته کې هم گډون کړی و، ویلي چې مودي په دې ناسته کې د کشمیر د مسئلې په تړاو هېڅ راز خبرې نه دي کړې.

د یادونې ده چې کشمیر د هند او پاکستان ترمنځ پرته سیمه ده، چې اوسمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ وېشل شوې او دواړه خواوې یې د بشپړ ملکیت ادعا لري، له همدې کبله د دغو هېوادونو ترمنځ څو ځله پرې سختې او خونړۍ جگړې هم شوې دي.

## خبرنگاران در افغانستان مصئونیت ندارند و زیر سایۀ خشونت زندگی می کنند



اشتراک کننده‌گان سمینار «بررسی یک‌صد سال رسانه‌ها و قانون در افغانستان»، ضمن ستایش از پیشرفت رسانه‌ها در افغانستان گفتند که در ۱۸ سال، ۱۰۵ خبرنگار و کارمند رسانه‌یی در افغانستان کشته شده اند.

این سمینار، به مناسبت تجلیل از صدمین سالگرد استرداد استقلال افغانستان، دیروز در کابل برگزار شد.

در این سمینار یک روزه برعلاوۀ مقامات حکومتی، نمایندگان نهادهای بین المللی، نهادهای حامی رسانه‌ها، ژورنالیستان و استادان ژورنالیزم شرکت کرده بودند.

سید آقا فاضل سانچارکی معین نشرات وزارت اطلاعات و فرهنگ گفت که رسانه‌ها سابقۀ طولانی در افغانستان دارد؛ اما در هجده سال اخیر، رسانه‌ها پیشرفت‌های چشمگیری در افغانستان داشته اند.

او تأمین صلح در کشور را یک نیاز خواند؛ اما افزود که در صلح باید دستاوردهای رسانه‌های کشور حفظ شود.

موصوف گفت که خبرنگاران با خشونت‌های مخالفین مسلح دولت، زورگویان، اعضای شورای ملی و مقام‌های حکومتی در افغانستان رو به رو شده؛ اما بیشتر این خشونت‌ها از سوی مخالفین مسلح دولت بوده است.


مجیب خلوتگر نماینده فدراسیون ژورنالیستان و رسانه‌های افغانستان گفت که رسانه‌های افغانستان، پس از دوره حکومت طالبان پیشرفته های چشمگیری داشته؛ اما هنوز هم رسانه‌ها و خبرنگاران زیر سایه خشونت زندگی می کنند.

وی گفت که از سال ۲۰۰۱ میلادی تا به حال، بیش از ۱۰۵ خبرنگار و کارمندان رسانه یی در افغانستان کشته شده اند. او افزود که پنج تن این خبرنگاران و کارمندان رسانه، در سال روان میلادی کشته شده اند.

به گفته او، دوسیه‌های اکثریت این قتل‌ها به دلایل مختلف از سوی حکومت افغانستان بررسی نشده است و این نشان می‌دهد که خبرنگاران و کارمندان رسانه یی، در افغانستان مصئونیت ندارند.

## ژونـــد

## ذهن څه شی دی او څه ډول کار کوي؟



ذهن د انسان د بدن حیرانوونکی سیستم دی. دغه سیستم د هغو اطلاعاتو خپروونکی دی، چې تاسو یې د خپلو حواسو په وسیله حس کوی. ذهن هغه مجموعه ده چې د یوه فرمان ورکوونکي په وسیله چې مغز بلل کېږي، کنټرولېږي. ټولې کړنې لکه فکر، حافظه، احساسات او تخیل د مغز په نوم په یوه تشکیل کې راځي او د مغز په وسیله رهبري کېږي. کله چې د یو څه فرمان ورکول کېږي، له مغز څخه د یوې نخاع په وسیله چې ژوندی، ډېره تېزه او په میلیونونو سلولونه یې د بدن هرې برخه ته غځېدلي، د امر یا منعې عمل تر سره کوي. لیدونکي د خپلو سترگو په وسیله انځورونه، لغتونه، جدولونه او نښې نښانې وېني. دوی اړ دي چې مسایل او اطلاعات په خپلو سترگو ووېني، درک یې کړي او له هغه وروسته یې په اړه پرېکړه وکړي. ځینې کسان دې ته اړتیا لري چې نظرونه، بحثونه او موسیقي واوري، هغوی د اورېدو له لارې د یو څه په اړه پرېکړه کوي او وایي: «دغه څه زما په اند ښه دي». یا «دغه څه زما په اند ښه نه دي».

بل حس چې له انسان سره د شیانو په پېژندلو او درک کولو کې مرسته کوي، د لامسې حس دی. دغه نه یوازې له ړندو کسانو سره مرسته کوي، بلکې له هغو کسانو سره هم د شیانو په پېژندلو او درک کولو کې مرسته کوي، چې سترگې یې روغې وي.

## ژاولې ژوول د روحي فشار مخنیوی کوي



د ژاولو ژوول ډېرې گټې لري، چې دلته یې یو څو ته په لنډ ډول کتنه کوو:

۱- ژاولې ژوول حافظه قوي کوي او توجه زیاتوي. څېړنې ښيي چې ژاولې ژوول مغزي حجرو ته له ۲۵ – ۴۰ سلنه پورې د وینې او اکسیجن جریان زیاتوي، چې په پایله کې یې حافظه قوي کېږي او انسان باتوجه او تېز ذهنه جوړېږي.

۲ـ هغه خلک چې ژاولې ژویي، تر هغو چې نه یې ژویي، ویښ او بیدار وي او د بهرني عامل پر وړاندې غبرگون ته تیار وي.

۳- که خوب درځي او غواړې چې خوب مو وتښتي؛ نو ژاولې ژوول بالکل له تاسو سره مرسته کوي، چې خوب مو وتښتوي.

۴- ژاولې ژوول د روحي فشار او خپگان مخنیوی کوي.

٥ - ژاولې غاښونه روغ ساتي. څېړنو ښودلې چې که له ډوډۍ وروسته، د ۲۰ دقیقو لپاره ژاولې وژوول شي، غاښونه پاک او روغ پاتې کېږي. تر ډېره هڅه وکړئ چې گلوکوز لرونکې ژاولې و ژویې.

٦- ژاولې ژوول د زړه د سوځېدو مخه نیسي. تر امریکا وروسته په ترکیه کې د ژاولو د تولید ډېرې فابریکې فعالیت کوي. د یادونې ده چې د ژاولو کیفیت باید په پام کې ونیول شي، ځکه بې کیفیته ژاولې پر غاښونو سربېره، د روغتیا لپاره هم زیان رسولی شي.